عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۸/۲۸

# را بیندرا ناتهه ټاګور
# او د هغه یو څو شعرونه

د عبدالباري جهاني ترجمه

( ۱۸۶۱-۱۹۴۱ )

رابیندراناتهه ټاګور د هند د کلتور د بهترینو تجسم بلل سوی دی.ټاګور، چي ټول ژوند یي په لیکنو تېر سو، د شعرونو، کیسو، ډرامو، ناولونو او په هند کي د ویدي زماني څخه نیولي تر عصري وختونو پوري د هند د تاریخ په باب د پراخو مضامینو او لیکنو یوه لویه مجموعه په میراث پرېښودله. او دا ټولي لیکني یي له ژوند څخه د هغه د بشري او ایډیالیستیکو افکارو او لیدلوري سره د تنستي په څېر اودلي دي.

ټاګور په کلکته کي وزېږېدی او د یوې روښاني او ځلاندي کورنی تر ټولو کشر غړی وو. پلار یي ډیویندرا ناتهه ټاګور، یو شته من، تعلیم یافته او د ټینګي مذهبي عقیدي خاوند وو. رابیندراناتهه یي په ۱۸۷۷ کال کي، د حقوقو په څانګه کي، د تحصیل لپاره لندن ته واستاوه. خو رابیندراناتهه ډېر ژر له لندن څخه خپل هیواد ته ستون سو او د بنګالي ژبي مجلو لپاره یي په لیکنو پیل وکړ. یوه داسي غیر رسمي تعلیمي موسسه یي منځته راوړه چي په هغه کي یي د خپلو عقایدو د خپرولو او ترویجولو هڅه وکړه. ده هغه وخت بین المللي شهرت ترلاسه کړ چي په ۱۹۱۳ کال کي یي د ادبیاتو لپاره د نوبل جایزه وګټله، چي زیاتره یي د خپل ستر شاعرانه اثر ګیتانجلي له برکته لاسته راوړه. ټېګور په ۱۹۱۵ کال کي د برتانیي له حکومت له خوا د سر یا جناب لقب، چي په برتانیه کي لویو اشرافو او د کارنامو خاوندانو ته ورکول کېږي ورمانه. خو څلور کاله وروسته چي برتانیي په پنجاب کي د ملکي نافرمانیو او ګډوډیو د ځپلو لپاره له ظالمانه قوت څخه کار واخیست نو ټېګور هم، د اعتراض په عنوان، له هغه لقب څخه استعفی وکړه.

ټاګور په خاصه توګه له اجتماعي اصلاحاتو سره علاقه درلوده او هغه یي تر سیاسي تغییراتو مهم بلل، سره له هغه چي په هغه وخت کي هند د برتانیي تر سلطې لاندي بدي ورځي تېرولي. یوه لیکوال، ټاګور د زغم، دوستی او اجتماعیت د روح تجسم وباله. ټېګور په دې عقیده وو چي د هند د روحاني عقل قیمت بها خزانه یوازي د هغه هیواد په خلکو نه بلکه په نړی اړه لري. ده هڅه وکړه چي دغه روحاني عقل، د خپلو لیکنو له لاري، نړیوالو ته ورسوي. په دغه لیکنو کي مونږ ټېګور د یوه داسي انسان په حیث وینو چي د ماشومانو په څېر ساده مینه په زړه کي لري او په دغه حال کي پر یوه داسي خدایي ذات او شعور باندي عقیده لري چي په ټولو کایناتو کي خپور دی.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ګیتانجلي ښايي د ده دليکنو تر ټولو صوفيانه اثر وي. ټاګور، د ژوند پر ښکلاوو د يوه مين او عاشق په حيث، کوښښ کړی دی چي خپله ژوره او بې کچه مينه د يوه شاعر په ژبه افاده کړي او په عين وخت خدای د خپل الهام سرچينه بولي. دی پخپله ليکي چي دا له نل څخه جوړه سوې وړه تولکه تا تر غونډيو او وړو درو پوري ورسوله او په هغې کي دي هغه سورونه پو کړل چي څو نړی وي هغه به نوي رنګونه اخلي.

له ګیتانجلي څخه

١

تا له ما څخه تل پاته وجود جوړ کړ

او دا ستا مهرباني ده

دا نازک لوښی چي هر ګړی تشيږي

او بيا بيرته له تازه ژوندونه ډک سي

دا له نله جوړه سوې دا وړه ښکلې شپېلۍ دي

چي سورونه دي تر غرونو او درو دي رسولي

ستا نفس پکښي چلیږي

تر قيامته چي دا نوي نغمې وايي

چي دي کله زما واړه زړګي ته راسي

هغه ګوتي چي له مرګه آشنا نه دي

نو زړګی مي له خوښۍ وهي ټوپونه

داسي حال وربانډي راسي

چي بيان يي د کلام تر توان وتلی

زما واړه لاسونه نيسي، ستا له لوري اوريدلي سوغاتونه

زماني دي چي تيريږي، او قرنونه دي چي اوړي

ستا له لوري سوغاتونه لا را اوري

زه يې نور هم درنه غواړم، او لا ځای ورته لرمه.

# ۲

کله چي ته ماته د سندري ويلو امر وکړې نو زړه مي له غروره سره چوي. زه ستا مخي ته ګورم او له سترګو مي اوښکي جاري سي.

دا سخت حالت دی او زما د ژوند بي سوري په يوه خوږه نغمه کي سور واخلي، ژبه مي په ثنا او صفت ګويا سي او په داسي شوق جاري سي لکه خوشاله مرغی چي د سمندر پر سر وزرونه وغوړوي.

زه پوهېږم چي زما سندري پر تا ښې لګيږي. زه پوهېږم او يوازي هغه وخت ستا په مخ کي دربېږم چي پر شونډو مي سندره لرم.

زما سندره تر دونه ليري ځايه پوري وزرونه وغوړوي چي ستا تر پښو پوري ورسيږي او دا هغه ځای دی چي ما يي تصور نه سو کولای.

زه د سندري ويلو په مستي کي داسي خوښ يم چي تاته د دوست په نامه در ږغ کړم. خو ته په حقيت کي زما بادار يي.

# ۲۳

شپه تياره ده توپاني ده، دوسته څنګه؟

ته د ميني په سفر يي را وتلی

اسمان داسي په غړومبي دی لکه

زړه ته چي يي درد وي رسېدلی

زما له سترګو کړی شپه خوب تښتېدلی

هر ګړی ور خلاصوم د باندي ګورم

وايم څرک به دي پيدا کړم په تياره کي

هيڅ مي نه راځي تر سترګو نه پوهېږم

چي پر کومه لار دي ورک پلونه پيدا کړم

د کوم سيند پر توره غاړه به دي ګورم

له کوم تور ځنګله به غواړمه ستا ښني

ته د کومو تاريکيو له کوګله

زما پر لوري پی کوې اوږده مزلونه؟

## ۲۹

پر هغه چي مي خپل نوم راګرځولی
او د نوم په تور دېوال کي مي بند کړی
په دې تور سیاه چاه کي ژاړي
له سهاره تر ماښامه زه لګیایم
او پرشاوخوا دېوال پر جوړومه
ورځ تر بلي دیوال لوړ سي او اسمان ته ورسیږي
زه د خپل دېوال په سیوري کي ځان ورک کړم
زه چي ګورمه دېوال ته نو په زړه کي سم مغروره
هم په ختو هم په ړېګو، شاوخوا د دېوال نیسم
واړه سوري يې پټومه
هسي نه چي په دې نوم کي کوم یو سوری وي رانه پاته
خو چي هر څه وړاندي ځمه او چي هر څه زیار ګالمه
حقیقت مي د ریښتوني وجود ورک سي
زما له خپلو بینا سترګو.

## ۳٦

خدایه تاته په دعا یم خواست مي دا دی
چي په زړه کي مي دننه
د نیستی او کمزوری اثر پرې نه ږدې
ما ته دونه قوت راکړه چي د غم او د ښادی بارونه یوسم
ماته دونه قوت راکه چي مي مینه ستا لپاره قرباني کړم
له نېستمن سره د مرستي قوت راکه

او قدرت ته مي هيڅکله سر ټيټ مه کړې

ماته دونه قوت راکه چي په جګه غاړه ژوند پر نړۍ وکړم

او زه دونه قوت غواړم چي په مينه مي تسليم کړم

خپل قوت ستا ارادې ته.

## ۵۰

زه د کلي په لارو کوڅو کي له يوې دروازې تر بلي پوري، په ګدايي ولاړم. او کتل مي چي هغه په طلايي ګاډۍ کي سپور، په ليري فاصله کي داسي راڅرګند سو لکه له برم او ښوښيه ډک خوب. او زه حيران وم چي دا شهنشاه به څوک وي!

په زړه کي مي هيلي په ځيو سوې او ګومان مي وکړ چي نور مي د غم شپې پای ته ورسېدې. زه ودرېدم چي ما ويل زما له غوښتني پرته به خيرات راکړي.او اوس به شاوخوا د طلاوو باران جوړ کړي.

د ګاډۍ ښبنتنه ته په هغه ځای کي چي زه ولاړ وم ودرېدې. ستا سترګي پر ما ولګېدې او په موسکا مي خواته راغلې. ما داسي احساس وکړ چي نور مي نو بخت را ويښ سو. او شهنشاه به هر څه راکړي. تا يو ناڅاپه خپل ښی لاس را اوږد کړ او ودي ويل« تا ماته څه راوړي دي او څه به راکړې؟»

آه! دا څومره شاهانه انداز وو چي يوه ګدا ته دې د ګدايي لپاره لاس اوږد کړ! زه لاس او پښه سوم او نه پوهېدم چي څه وکړم او وروسته مي کرار خپلي کڅوړي ته لاس کړ او تا ته مي د جوارو يوه تر ټولو کوچنۍ دانه درکړه.

او په هغه ورځ له خوښيه څومره حيران سوم چي د ورځي په پای کي مي خپله کڅوړه پرمځکه خالي کړه او د شيانو په منځ کي مي د طلا وړوکي دانه وليده. ما هلته په ساندو ساندو وژړل او ارمان مي کاوه چي کشکي مي دونه زړه درلولادی چي تا ته مي خپله ټوله شته درکړې او عوض مي ليدلی وای.

۵۳

بازو بند دي څومره ښکلی دی، رنګين غمي پکښي اوډل سوي دي او لکه ستوري داسي ځليږي. تر بازو بند دي لا هغه کره توره ښکلي ده چي بريښنا ورځخه پاځي او د « ويشنو» د خدايی مرغه په څېر ښکاري چي وزرونه يي غوړولي او د لمر لوېده په قهرېدلو سرو وړانګو کي پرواز کوي.

داسي ځلېږي لکه د ژوند په وروستيو شېبو کي چي پر انسان باندي جذبه راسي. داسي ځليږي لکه د هستۍ خالصه او نکه لمبه چي په يوه سخته ځلا د مځکي د مخ ټوله هستي وسوځوي.

ستا هغه بازو بند ښکلی دی چي رنګين غمي د ستورو په څېر پکښي ځليږي. مګر باداره ستا هغه توره چي د بريښنا په څېر ځل وهي له خپل ټول ښايست سره سره دومره له زوره او قوته ډکه ده چي پکښي فکر کول پر سړي باندي لړزه راولي.

# ۸۲

زما خدایه ستا په لاسونو کي وخت ناپایانه دی. داسي څوک نسته چي ستا دقیقي وشماري.

ورځي او شپې تیریږي او زماني لکه ګلونه غوړیږي او مړاوي کیږي. خو ته پوهیږې چي انتظار څرنګه وباسي

ستا قرنونه یو په بل پسي تیریږي او تاته هر قرن د یوه واړه وحشي ګل عمر لري.

موږ وخت نه لرو چي له لاسه یې ورکړو. او څرنګه چي وخت نه لرو نو د فرصت د ترلاسه کولو لپاره مو چور اچولی وي. هسي نه چي فرصت له لاسه ورکړو ځکه چي موږ دوهم ځل وخت نه لرو.

او وختونه همداسي تیریږي خو زه خپل وخت هغه چاته ورکوم چي تر نورو زیات تلاش کوي او وارخطا وي او دا ګړی نو ستا په معبد کي هیڅ صدقي پاته نه وي.

ورځ پای ته رسیږي او زه په تلوار ځغلم هسي نه چي ستا دروازه و تړله سي، خو کله چي راسم نو ګورم چي اوس هم لا وخت پاته دی.

# ۸۳

موري زه به مي د خپل غم له اوښکو ستا د غاړي لپاره د مرغلرو امېل جوړ کړم.

د اسمان ستورو ستا د پښو د ښکلیو کولو لپاره پایزېبونه جوړ کړي دي. مګر ما چي هار راوړی دی هغه ستا پر سینه ښه ښکاري.

دولت او شهرت ستا له برکته دی او دا ته یې چي چاته یې بخښې او له چا یې دریغوې. مګر غم بالکل زما خپل مال دی او کله چي یې زه تاته د صدقي په څېر راوړم نو ته مي په عوض کي په فیض او برکت ونازوې.

# ۱۰۰

زه د شکلونو په سمندر کي غوټه کېږم او هیله مي دا ده چي له دریابه څخه هغه بشپړه بې شکله مرغلره ترلاسه کړم.

نور نو زما په دې زړه، وختونو ځپلي کښتۍ کي د دریاب له یوې څنډي تر بلي پوري نه ځم. هغه ورځي ډېري پخوا تیري سوي دي چي ما به خپله زړه کښتۍ څپو ته لاهو کوله.

او اوس مي آرزو دا ده چي هلته مړ سم چي مرګ نسته.

هغي ناپایه ژوري کندي ته ولوېږم او هلته په دربار کي حاضر سم چي د نغمو لپاره تارونه سور کېدلو ته ضرورت نه لري او زه به د خپل ژوند رباب راسره واخلم.

زه به دا خپل رباب د همېش او تل پاتي پر نغمه سور کړم او کله چي مي رباب په وروستیو ساندو کي خپله وروستۍ نغمه وشرنګوله نو خپل خاموش رباب به مي د خاموشی په پښو کي کېښږدم.

# ۱۰۳

پرېږده خدایه! چي مي ټول حواس راغونډ کړم
دا نړۍ دي ټوله راولمه پښو ته
او سلام مي درته وکړم
یو ځل پرېږده چي ماغزه مي
لکه ډکي درني وریځي، سره اوري له بارانه
ستا تر وره ستا تر قدمه پوري دروړم
او بیا هلته یو سلام هم درته وکړم
په یوه نغمه کي غونډې کړم د ژوند ټولي سندري
او دا ټولي کړم رواني
یوه سیند د خاموشۍ ته
او بیا هلته یو سلام هم درته وکړم
لکه سېل د مسافرو او پردېسو سپینو زانو
چي ښېلتون یې پر زړو ایښي وي داغونه
شپه او ورځ کوي مزلونه
ځي پر لور د غرنیو ځالګیو
پرېږده زما ټوله ژوندون او دا هستي مي
د سفر جامي کړي جوړي
خپل وروستي او دایمي کورته رهي سي
او بیا هلته یو سلام هم درته وکړم.

**** **** ****

Vedanta: p p ۲۳۰-۲۳۵
Edited by Clive Johnson.
Printed ۱۹۷۱ by Vedanta Society of Southern California. U.S.A

را بیندرا ناتهه ټاګور
jahani_a_bahari_raabendra_taagor.pdf